# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد          بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم          از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com          afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
| --- | --- |



قاسم باز و یادداشت پورتال

۳۱ اکتوبر ۲۰۲۰

## افغانستان و با سوادان بی خبر وعقده ئی!

چند روز قبل "زلمی خلیلزاد" نمایندۀ فوق العاده وزارت خارجۀ امریکا در شهر دوحه کشورقطر در مقابل سؤال ژورنالیست افغان چنین اظهار داشت.

« امریکا به دعوت هیچ کسی به افغانستان نیامد ، هر وقت که بخواهد از افغانستان خارج شود هیچ کس مانع خروج آنها از افغانستان شده نمی تواند. ما نه به درخواست کسی به افغانستان آمدیم و نه به در خواست کسی از افغانستان می برایم.»

حالاسؤال من از آن عده سیاسیون که می گفتند افغانستان اشغال نشده به این فرمودۀ نمایندۀ وزارت خارجه امریکا چی جواب دارد.؟ در افغانستان یک ضرب المثل داشتیم که می گفت . (ای عقل پسان کاش کمی پیش می آمدی) خوب شد که گپ از شف شف به شفتالو رسید.

این گفتۀ "خلیل زاد" در مطبوعات افغانی به انعکاسات مختلف همراه بود، ولی حقیقت موضوع هم همین است که آقای خلیل زاد اظهار داشته. هر کشور استعماری و مهاجم تا وقتی که زمینه و منافع شان ایجاب می کند در کشوری که اشغال نموده باقی می ماند. چنانچه این گونه سناریو ها را ما در دوران اقتدار حزب دیموکراتیک واحد خلق و پرچم در ۶ جدی سال ۱۳۵۸به چشم خود دیدیم.

امریکائیها به درخواستهای مکرر دولت شاهی افغانستان در زمان صدارت شاه محمود خان و سردار داوودخان به افغانستان تجهیزات، سلاح و مهمات نظامی نمی داد. امروز آنها بعد از بیست سال بودن شان در افغانستان به حکومت دست نشاندۀ خود در کابل مهمات وسایط نظامی را نمی دهد. آیا در آن زمان، ظاهرشاه و داوودخان ملامت بود که بعد از چندین بار رجوع به امریکا با آنهم امریکائیها به حکومت آنوقت افغانستان سلاح نداد. امروز امریکائیها سلاحی را که در افغانستان دارد به حکومت دست نشاندۀ، کرزی و غنی نمی دهد بلکه آن را به پاکستانی ها به طور تحفه هدیه می کند.

آیا اخلاقی است که ما دولت شاهی افغانستان و حکومت سردار داوودخان را به خاطر دفاع کشور خود سر زنش و ملامت سازیم که وی چرا از روسها مهمات نظامی و سلاح خریداری نمود .؟ !

از آن گذشته، در چنین بحثی نباید دو نکتۀ دیگر را از نظر دور داشت:

اول این که به اساس آخرین مصاحبه ای که شخص اعلیحضرت ظاهر شاه با بی بی سی داشت، وی رسماً مسؤولیت تمام آنچه را در جریان ۴۰ سال سلطنتش صورت گرفته بود، چه کسی خوب بگوید و یا بد، شخصاً به گردن گرفته، نه جائی برای کاکاهایش گذاشت و نه هم برای پسر کاکایش شهید داوود. رانده شدگان از ادارهٔ شهید داوود که امروز در عقب سلطنت پنهان شده به مانند سگ از هرطرف بر شهید داوود می تازند، بهتر است آن مصاحبه را فراموش ننمایند.

نکتهٔ دوم، با این فرض آغاز می شود که شهید داوود در زمان صدارتش خودش سیاست خارجی افغانستان را تعیین می نمود و این او بود که بنیان رابطه با شوروی را گذاشت. هرگاه چنین هم فرض نمائیم با در نظرداشت اوضاع همان زمان که تمام رهبران با شخصیت جهان و آنهائی که به استقلال کشور و رفاه مردم شان می اندیشدند، از جمال عبدالناصر و حافظ اسد گرفته تا نکرومه، سوکارنو و نهرو، بزرگترین افتخار شان را نزدیکی با شوروی آن زمان می ساخت و با در نظرداشت جنایاتی که امریکا طی بیست سال اخیر در کشور ما انجام داد، آیا وجدان حکم نمی کند که نباید شهید داوود را به خاطر آغاز روابط حسنه با شوروی آن زمان محکوم کرد؟ نوشتم حکم وجدان، باید پرسید عقده های شخصی برای چه کسی وجدان گذاشته است؟

افسوس به حال ان عده افراد عقده ئی که داوودخان را در این موضوع مقصر می دانند.

من شخصاً از شاعر حماسی و خوش کلام جناب آقای عبدالباری جهانی زیاد مشکورم که وی در این روزها به خاطر روشن ساختن زاویه های بسیار تاریک سیاست دولت شاهی و حکومت های دورهٔ صدارت مرحومان هر یک سردار محمد هاشم خان ، سپاه سالار سردار شاه محمودخان غازی و شهید سردار محمد داوودخان کتاب (د جگړی ریښی ) تألیف، جیفری رابرټس امریکائی، ۲۰۰۳ کال را ترجمه نمود. واقعاً خواندن هر سطر آن ترجمه از سطر دیگر جالبتراست. من هم به نوبهٔ خود با اجازهٔ جناب جهانی صاحب بزرگوار بعضی حصص نوشته و ترجمه وی را در این نوشته نقلاً کاپی و ذکر نمودم، ترجمهٔ این کتاب ضربهٔ محکمی است به روی مخالفین شهید سردار محمد داوود خان و سیاست دولت شاهی آنوقت افغانستان.

بدبختی ما افغانها در اینست اگر یک محقق ریالست آزاد افغان بدون علایق شخصی بغض و عقده در مورد وقایع کشور شان حقیقت بنویسد آن را قبول نمی کنیم ولی به عکس اگر یک خارجی هر چی در بارهٔ رویدادهای کشور مان بنویسد آن را نعوذبالله مانند حروف قرآن قبول می کنیم. مثال برجستهٔ آن کتاب و تألیف جناب داکتر صاحب سید عبدالله کاظم تحت عنوان (زندگی سیاسی شهید محمد داوودخان از آغاز تا انجام ۱۳۱۰ تا ۱۳۵۷ ش) که در سه جلد تألیف گردیده می باشد. تا جائی که من کتاب استاد معزز جناب داکتر سید عبدالله کاظم را خوانده ام به محتویات کتاب جیفری رابرټس امریکائی چندان فرق ندارد، استاد سید عبدالله کاظم به شیوهٔ عالی و روان وقایع آنوقت کشور را به بسیار امانت داری در کتاب خود درج اوراق نموده.

اینک توجو شفتگان تاریخ معاصر افغانستان به چند مطلب مهم کتاب جیفری رابرټس که توسط شاعر توانا جناب آقای عبدالباری جهانی ترجمه شده جلب می نمایم.

ليکوال: جيفري رابرټس ۱۶ / ۰۹ / ۲۰۲۰

مترجم: عبدالباري جهاني

محمد داوود، د شوروي - افغان موافقتنامي

او د جنګ خواته حرکت، ۱۹۵۵ - ۱۹۷۹

څوارلسم فصل

لومړۍ برخه

د ۱۹۵۵ کال تر وروستیو شپو پوري، د هیلمند د پروژې پر سر نارضاییتونو او د امریکا له خوا د افغانستان د اقتصادي او پوځي مرستو او سیاسي ملاتړ د غوښتنو پرله پسې ردېدلو افغانستان له امریکا څخه بېل کړی وو. امریکا پاکستان او ایران ته پرله پسې مرستي ورکولې او نور یې دا پلمه هم نه سوای کولای چي په نړۍ کي د نورو مکلفیتونو د پوره کولو له امله د بودجې له کمبود سره مخامخ ده او یا د افغانستان لپاره دغه ته ورته مرستو د ورکولو لپاره د کانګریس منظوری ته ضرورت لري. ضمنا پاکستان ته د امریکا اقتصادي مرستو او د درنو وسلو کومکونو افغانستان د پښتونستان په مسله کي نور هم پر خپله خبره ټینګ کړ. داوود خان اقتصادي کمزوریو او له اوضاع څخه د پاکستان ګټې اخیستلو او خپل کمزوري پوځي قوت، چي حتی د داخلي ناکراریو لپاره یې کفایت نه کاوه، ډېر سخت په تنګ کړی وو او مجبور وو چي، د ملاتړ د ترلاسه کولو لپاره، بلې خواته مخ واړوي. داوود خان د وارډ په دسیسو خبر وو او په دې هم پوهیدی چي امریکا د ده هیواد ته هیڅ ارزښت نه ورکوي. داوود خان باید بالاخره یو تصمیم نیولی وای.

د ډسمبر په میاشت کي د شوروي اتحاد د کمونیستې ګوند عمومي منشي نیکیتاخروسچیف او صدراعظم نیکلای بولګانین کابل ته ولاړل او داوود خان ته یې د پوځي او اقتصادي مرستو پیشنهاد وکړ. داوود خان په دې عقیده وو چي د دغو مرستو څخه را ولاړېدونکي خطرونه کنټرولولای سي او په دې هم پوهیدی چي لاس ترزني کښینستل او هیڅ نه کول نور هم خطرناک دي نو یې د دوی د مرستو پیشنهادونه ومنل. دا موافقتنامه د ۱۹۵۶ کال د جنوري په میاشت کي لاسلیک سوه او افغانستان ته یې د سلو میلیونو ډالرو اقتصادي مرستو ژمنه کوله. په دې مرستو کي د اوبو د برېښنا لپاره د بندونو جوړول، صنعتي موسسې، د موادو د زخیره کولو تسهیلات، د کرني درې لویې پروژې، کابل ته نیژدې دوه عصري هوایي ډګرونه او له کابل څخه د هندوکش په غرونو کي د آمو ترسیند پوري د یوې لویې لاري جوړول شامل وه. د شوروي دا مرسته د هغو ټولو خارجي مرستو دوه چنده وه چي مخکي افغانستان ته ورکړه سوي وې. د دې مرستي د پور شرایط هم سپک وه. اته کاله یې سود نه غوښت او د سود اندازه یې هم دوه فیصده وه او پیسې یې هم په دېرشو کالو کي په جنس غوښتلې.

داوود خان په پوځ کي د کمونیستانو د نفوذ د مخنیوي لپاره ډېر زیات احتیاطي اقدامات وکړل او همدې احتیاطي اقداماتو په راتلونکي مشروطه دوره کي هم داوم وکړ. ده په جرمني کي، د پولیسو، روزل سویو افسرانو ته وظیفه ورکړه چي د ټولو شوروي تخنیکرانو حرکات تر سختي څارني لاندي ونیسي او دغه راز د هغو داخلي سازمانونو اعمال وڅاري چي چپی افکار او تمایلات لري. داوود خان پرله پسي شوروي تخنیکران تبدیلول او چنداني یې د هغه روسي کارکونکي، چي د کار دوره به یې پوره سوې وه، قرارداد نه نوی کاوه. داوود خان دغه راز کوښښ وکړ چي پوځي افسران او د هوایی قوې صاحب منصبان له سیاسي افکارو څخه ګوښه وساتي. ده هر وخت هغه صاحب منصبان چي سیاسي عقاید یې درلودل برطرفه کول او هیڅ صاحب منصب ته یې اجازه نه ورکوله چي ځان د کوم انتخابي مقام لپاره کاندید کړي. د کودتا د مخنیوي لپاره یې د احتیاطي اقدام په توګه، د واکمنو کورنیو غړي او خپل شخصي ملګري او دوستان پر ډېرو لوړو چوکیو باندي مقرر کړل. عسکري قطعات له کلیو او ښارونو څخه لیري ځای پر ځای کیدل څو صاحب منصبان له هیڅ محلي شورش سره ارتباط ټینګ نه کړای سي. داوود خان ټولو هغو پوځي او ملکي کسانو ته، چي په شوروي کي روزل کیدل، بدبیني ښکاره کوله او هغوی یې پر حساسو ځایونو باندي نه مقررول او معمولا به یې کښته چوکی ورکولې.

داوود خان هر وخت په دې پوهيده چي شورويان له افغانستان سره د خپلو ګټو لپاره مرستي کوي؛ مګر ده هر وخت دا استدلال کاوه چي شورويان به پر افغانستان باندي د حملي کولو خطر ونه مني ځکه چي افغانستان به يې په اقتصادي لحاظتر غاړي سي او د هغه د اقتصاد کنټرولول به هم ډېر مشکل او هم ډېر ګران ورته پرېوزي. ده ويل چي که روسانېر افغانستان باندي يرغل وکړي نو دا به د اسيا او افريقا په بيطرفو هيوادونو کي له دوی سره مخالفتونه را پيدا کړي.

هغه ويل چي که سرې په افغانستان کي د شوروي اهدافو او نيتونو ته وګوري نو پر دې هيواد باندي د شوروي مستقيميرغل چنداني منطق نه لري. ځکه برسيره پر دې چي افغانان به د ګيريلايی جنګونو له لاري، له شوروي اتحاد سرهمقاومت وکړي هغه هيواد به په نورو بيطرفو هيوادونو کي اعتبار له لاسه ورکړي. ده ويل چي که شوروي اتحاد پرافغانستان باندي يرغل وکړي نو د نړی د عامه ذهنيت له مخالفت او د اسلامي اسيا او منځني ختيځ د تقريبا دريو سوومیلیونومسلمانانو له مخالفت سره به مخامخ سي.

په دې استدلالونو کي يوه اندازه منطق سته او يوازي افغانانو نه بلکه ځينو امريکايانو هم دغه ته ورته استدلال کاوه د ګيريلايی جنګ تهديد او د نړی والو مخالفت د شوروي د يرغل په مقابل کي يو خنډ ګڼل کيدلای سوای. مګر دې خبري ته هم بايد توجه وکړو چي په انګولا، حبشه او جنوبي يمن کي شورويانو خپل طرفدار رژيمونه، په دغه توګه، منځته راوړي او تجربه کړي وه؛ او په همدغه وخت کي په ايران کي د امريکايانو د يرغمل کيدلو موضوع هم د نړی توجه ور اړولې وه او شوروي اتحاد دغه نړی وال شرايط د خپل ځان په ګټه بلل. او په عين حال کي شوروي اتحاد هم، د نورو لوېديځو هيوادونو په څير، د افغانانو ګيريلايی مقاومت ته چنداني اهميت نه وو ورکړی.

د افغانستان طالع ځکه ډېره خرابه وه چي له ١٩٥٢ کال څخه تر ١٩٥۶ پوري، په هغه هيواد کي د امريکا سفيرانګوس وارډ وو. پاکستان د متحده اياالتو سره په اتحاد کي د شامليدلو لپاره د نفوذ له يوشمير ښتنو مقاماتو څخه ګټه اخيستې وه. وارډ يو له هغو کسانو څخه وو چي سخت د پاکستان طرفدار وو. وارډ يو څه وخت د ماوزې تونګ په زندان کي تير کړی وو او کله چي له بنديخانې څخه را ووت نو د کمونيستانو ډېر سخت دښمن ورڅخه جوړ سوی وو. دی هم د پاکستاني مقاماتو د تبليغ تر اغيزي لاندي راغلی او هم يې د افغاني ناراضيانو خبري اورېدلي وې او داوود خان ته يې د يوه کمونيسټ په سترګه کتل. ده د سي آی اې له رييس سره، چي ليون پولادا وايي تمامه ورځ به د شرابو په نشه کي ډوب وو، تل به توپنچه په ځړېدله او يو تش ماجراغوښتونکی وو چي ځان يې د افغانستان لارنس باله، لاس يو کړی وو،[ فکر ميکنم اشاره به موضوع عبدالملک خان عبدالرحيم زی باشد .] او د داوود خان نسکورولو ته يې مال تړلی وه. د دوی په فعاليتونو ظاهراً واشنګټن خبر نه وو، او نه دوی له واشنګټن څخه اجازه اخيستې وه.

وارډ، د خپل سفارت په دوران کي، د امريکا او افغانستان د نيژدې کولو لپاره هيڅ کار ونه کړ. که څه هم چي د خارجه وزارت مخکنيو رپوټونو په افغانستان کي د کمونيسټ ګوند د وجود په باب هيڅ نه وه ويلي اول يې په افغانستان کي د کمونيستانو د طرفدارانو شمير کم او بې ارزښته بللی وو خو وارډ سره له دغه رپوټ ورکړ چي د افغانستان په هر ځای کي کمونيستان فعاليت کوي خو دوی ټول پټ دي او سفارت د هغوی په باره کي معلومات نه لري. ده د دې لپاره هيڅ دليل نه درلود چي ولي بايد، د يوه هيواد د عملي وضعيت په باره کي، داسي ضد او نقيض رپوټ ورکړي. وارډ د پاکستان د تبليغاتو تر اغيزې لاندي وو او افغانستان يې له دې کبله غانده چي د کراچي د

حکومت پر ضد ډېر سخت تبلیغ کوي چې په غیر کمونیستي نړۍ کي بل هیڅ هیواد داسي پروپاګنډه نه کوي. کله چې افغانستان د شوروي د تهدید په باره کي رپوټ ورکړ وارډ د هغوی رپوټ رد کړ او ویل یې چې افغانستان غواړي په دې توګه د امریکا څخه مرستي ترلاسه کړي او په افغانستان کي یې د خوراکي موادو کموالی د قاچاقبرانو له لاسه باله. که چیري وارډ، د افغانستان په باره کی مثبت نظر ورکړی وای، نو ښایی خوش اخلاقه ډلس یې هم په دې قانع کړی وای چې هغه هیواد د لوېدیځو هیوادونو د اتحاد په لیست کي شامل کړي. خو ده خپل ټول وس د دې لپاره تمام کړ چې په واشنګټن کي څوک د افغانستان ږغ وانه وري.

سره له هغه چې افغانستان د وسلو د ترلاسه کولو لپاره خپله هیله څرګنده کړې وه خو وارډ فکر نه کاوه چې افغانستان به له لوېدیځ سره په اتحاد کي د شاملیدلو خطر قبول کړي او سره له هغه چې دی پوهیدی چې داوود خان به له لوېدیځ اتحاد سره د پاکستان په شاملیدلو سخت خپه سي خو ده فکر کاوه چې امریکا باید د افغانستان په خپګان کي ری ونه وهي او ویل یې چې متحده ایالات باید د اتحاد کارونه مخ ته یوسي او د افغانستان په اعتراضونو فکر خراب نه کړي.

حقیقت دا دی چې ټولو هغو امریکایانو چې د پکټ په جوړولو کي یې برخه درلوده په دې عقیده وه چې افغانستان له نظره غورځول کیدلای سي او پر دې خبري یې موافقه درلوده چې افغانستان باید داسي احساس ونه کړي چې متحده ایالات د لوېدیځ په اتحاد کي د هغه هیواد د شاملولو طرفدار دی. کله چې د امریکا حکومت، له پاکستان سره د اتحاد جوړولو په موضوع کي، د هند د دریځ د نرمولو کوښښ وکړ نو له افغانستان سره یې بیخي مشوره قدر ونه کړه. د امریکا حکومت داسي فکر کاوه چې که، د اتحاد په موضوع کي، افغانستان له نظره وغورځوي نو روسیه به هم د دوی په څیر سلوک وکړي. دوی فکر کاوه چې شوروي به په افغانستان کي د فعال کیدلو لپاره چنداني دلایل ونه لري او پر افغانستان باندي د شوروي د مستقیمي حملي احتمال خو لا نورهم لیري ښکارېدی ځکه چې افغانستان چنداني ستراتیژیکي ګټي نه درلودلي او لا یې اقتصادي او سیاسي تاوانونه هم درلودل. حتی ځینو امریکایي مقاماتو خو لا فکر کاوه چې پربېږده شوروي اتحاد پر افغانستان باندي یرغل وکړي او د دوی دا عمل به د هغوی په مقابل کي اسلامي هیوادونه ورته یو موټی کړي او بیطرفه اسیایي هیوادونه به د غرب خواته را واوړی

د افغانستان مشرانو هم د شوروي د حملي احتمال نه لیدی او هیله یې درلوده چې د نړی افکار او د افغانستان بې ارزښته حالت به شوروي اتحاد له حملي کولو څخه را وګرځوي؛ مګر بیا یې هم له روسیې څخه د وسلو د رانیولو هڅه وکړه او فکر یې کاوه چې دا کار به نور هم د شوروي د حملي مانع سي او په هیواد کي به اصلاحاتو ته لاره پرانیستل سي. دوی دا منله چې شوروي اتحاد به د افغانستان له دغي مرستي سره د شمالي افغانستان پر لور حرکت وکړي مګر دا یې ویل چې که شوروي حمله کوله نو په اتحاد کي د افغانستان په شاملیدلو او له چا څخه د وسلو په اخیستلو کي هم ری نه وهي.

د امریکا غیر فعالي پالیسی او له پاکستان او په وروسته کي له ایران سره ډیرو زیاتو مرستو افغانستان په اقتصادي او سیاسي خالا کي پرېښود او د افغانستان مشرانو ته څرګنده سوه چې متحده ایالات، د افغانستان د ګاونډیانو په تناسب، له هغه هیواد سره د تعصب څخه کار اخلي. داوود خان نه سوای کوالی چې د ایران او پاکستان عصري کیدلو ته لاس تر زني کښیني. که څه هم چې ده خبرداری ورکړ چې که لوېدیځ هیوادونه افغانستان، په داسي حال کي چې د پښتونستان بحران هم نه دی حل سوی، یوازي پرېږدي نو افغانستان به له شوروي اتحاد سره یوه حل ته ورسیږي؛ خو امریکا دې تهدیدونو ته هسي د لاپو په سترګه وکتل. خارجه وزیر ډلس فکر کاوه چې دا به ډېره ګرانه وي چې افغانستان به د خپل استقلال دوستی او په هغه سیمه کي د شوروي اتحاد د یرغلونو د لیدلو سره سره بیا هم، یوازي له یوه دوست او مسلمان هیواد سره د اختلاف لرلو له امله ، دې سیاسي ځان وژني ته حاضر سي.

افغانستان د وخته ال له شوروي اتحاد څخه د اقتصادي مرستو ترالسه کول پیل کړي وه. د ۱۹۵۰ کلونو د اقتصادي محاصرې په وخت کي، افغانستان له شوروي اتحاد سره د جنس په جنس تجارت څلور کلن تړون لاسلیک کړی وو او دا د ۱۹۳۰ کال راهیسي دغه راز لومړنی موافقه وه. شوروي اتحاد موافقه وکړه چي افغانستان ته به تیل، بوره، ټوکران، ماشین آلات او ټرانسپورټي سامانونه صادروي او په عوض کي به له افغانستان څخه پنبه، قیمتي ډبرې، پوستکي، میوې، بادام، پسته او نور واردوي. په ۱۹۵۴ کال کي داوود خان، په افغانستان کي د شوروي اتحاد له خوا د وړو اقتصادي پروژو د بشپړولو پیشنهاد منظور کړ. لومړنۍ پروژه د جنوري په میاشت کي پیل سوه او افغانستان ته يي دوه د شلو زرو ټنو په ظرفیت، د غلو دانو د پورته کولو، ماشینونه، د اوړو ژرنده او د هغه څنګ ته د ډوډۍ پخولو یوه دستګاه ورکړه. د جولای په میاشت کي يي په څلورو ښارونو کي د تیلو د ذخیره کولو څلور ټانکونه ور جوړ کړل چي په کابل، مزارشریف، هرات او کلیفت هر یوه کي یوه یوه ذخیره وه څو افغانستان د پاکستان د بلي اقتصادي محاصرې څخه وژغوري. د اګسټ په میاشت کي يې د هغو افغان کارکوونکو د روزلو لپاره چي د کابل د لارو کوڅو د سړکونو په پخولو کي کار ورڅخه اخیستل کیدی مالي مرسته وکړه. د کورجوړولو او د منابعو د انکشاف په پروژو کي مرستو يي د خلکو په عمومي ژوند کي اسانتیا راوستله. چک هم پنځه میلیونه ډالره پور ورکړ او د سمنټو جوړولو یوه فابریکه يي ورته جوړه کړه او څرنګه چي وارداتي سمینټو ډیر ګران لوېدل نو له دي کبله يي افغانستان ته ډېره ګټه ورسوله. د ختیځ بلاک پروژې د امریکا په ډول ځنډنی نه وې بلکه په ډېر لږ وخت کي او په ارزانه بیه سرته رسیدلي، حکومتي مقاماتو ته يي چندان ستونزي نه پیښولي او عمومي خلکو ته يي ډېره ګټه رسیدله.

داوود خان په شوروي اتحاد، هیڅ وخت، اعتماد ونه کړ مګر د دغو پروژو بریالیتوب او د لوېدیځ له خوا د مرستو پرله پسي ردېدلو هغه له شوروي سره د قراردادونو زیاتولو او پراخولو ته تشویق کړ. وروسته له هغه چي پاکستان او متحده ایالات د یکټې ملګري سول نو افغانستان ته دوې لاري پاته سوې؛ یا به يي اقتصادي محاصرې او مشکلات، پوځي کمزوري او سیاسي ماءیوسي زغمالی او یا به يي له شوروي اتحاد سره اړیکي سموالی. داوود خان دوهمه لاره ، په دې هیله، انتخاب کړه چي ګوندي د دایمي خطرونو مخه ونیسي. په داسي حال کي چي داوود خان له دې امله وغندل سو چي شوروي یتحاد ته يي په هیواد کي لاره ورکړه او په پوځ کي يي ځانته په لوی لاس ورانکارې قوه جوړه کړه؛ مګر سوال دا دی چي داوود خان کومه بله لاره درلوده کنه ؟

http://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/Jahani_b_eisenhower_afg_auw_atehad_dawud2.pdf

۲۸/ اکتوبر/ ۲۰۲۰

***یادداشت:***

*همان طور که بارها تذکار داده ایم، می باید باز هم بیفزائیم:*

*۱ - بدون آن که پای تعریف و یا تمجید اضافی و یا غرض آلود از نویسندگان وطن ما در بین باشد و خواسته باشیم بدین وسیله زیر بغل آنها خربوزهٔ غفلت بگذاریم صریحاً ابراز می داریم که نوشتهٔ هیچ محقق و مستشرق خارجی، نمی تواند جامعیت و درستی نویسندگان هموطنان خود ما را داشته باشند، زیرا خارجیان به هر اندازه ای که علم آموخته باشند، باز هم قادر نیستند به مانند یک افغان روان مردم افغانستان را شناخته، به کنه قضایا به مانند افغانها اشراف داشته باشند.*

*۲ ـ با در نظرداشت این که اکثریت قریب به اتفاق مستشرقین خارجی، یا در پیوند با مؤسسات معینی از کشور خودشان به افغانستان آمده اند و یا هم در ارتباط با نهاد های استخباراتی کشور خودشان قرار داشته اند و در همه حالت منافع تمویل کنندگان خودش و ناشران نوشته اش جلو چشم شان قرار داشته است، لذا هر نوشته ای را که ما از خارجی ها ترجمه می نمائیم، مکلفیت اخلاقی و میهنی داریم تا آن نوشته را از زاویۀ دید استخباراتی- امنیتی مورد غور قرار داده، نگذاریم حتا با ایما و اشاره، منافع ملی کشور ما را آسیب برسانند.*

*ادارۀ پورتال AA-AA*